د اپارتمانونو په یوه ودانۍ کې د ګاونډ د ژوند اصول د کورونو په قواعدو کې ټاکل شوي وي. ټول اوسېدونکي باید ددې اطاعت وکړي. که تاسو ته معلومه نه وي چې دا قواعد چېرته پیدا کړئ، نو تاسو د دغه جایداد د ادارې نه پوښتنه کولی شئ. هغوی به درته ددې کورنو قواعدو یو نقل درولېږي. زیاتره وخت د کرایې په موافقو داسې قواعد موجود وي چې د اوسېدلو په ودانیو کې ژوند بانديې حاکم وي. د قرارداد موافقه یوه داسې موافقه وي چې عموماً (په لیکلې بڼه) د مالک/مالکې او کرایه دار ترمنځ د کرایه شوي جایداد او د پیسو د هغه رقم (لکه کرایې) په اړه شوي وي چې کرایه دار یې کرایه شوي ځای نه د استفادې لپاره باید مالک/مالکې ته ادا کړي.

**د کورونو د عادي قواعدو یو څو مثالونه:**

- د شپې لس بجې د موسیقی یا د تلویزیون غږ ټیټ کړئ. ددې وخت نه وروسته په لوړ غږ شور ښایي ستاسو ګاونډي ته مزاحمت شي. که ددې اصول خیال ونه ساتل شي نو نور کسان ښایي پولیسو ته زنګ ووهي.





- د یو اپارتمان په ودانۍ کې ځینې ځایونه شریک وي، لکه هغه د ټولو اوسېدونکو لخوا کارول کېږي (د بېلګې په توګه په دې کې شامل دي دهلیز او زینې، بالاخانه، د انګړ برخه، وغیره). د نورو اوسېدونکو خیال وساتئ او دا ځایونه هر وخت پاک او صاف وساتئ.
- هغه کسان چې د ودانۍ یا یې دننه څه ته زیان ورسوي د رسول شوي زیان مسوول ګڼل کېږي، مطلب دا چې هغوی به ددغه زیان تاوان ورکوي.
- بایسکلونه، فرنیچر یا نور شیان باید په دهلیز کې پرېښښودل شي. په پیترولو چلېدونکي ګاډي (سکوټرې، موټرسایکلې) باید په زیرزمینۍ او د لارې مخې ته ونه درول شي. دا ډېره مهمه ده. که چېرته اور ولګي نو په کور کې هر څوک باید په تېزۍ سره ځان ویستلی شي.
- په شریک ځای کې سګرېټ څکل منع دي.
- د اوسېدو په ځینو ودانیو کې د ساتل شوو حیواناتو اجازه وي. دا خبره چې ایا د ساتلو حیواناتو اجازه شته که نه د کرایې په موافقه یا د کور په قواعدو کې تشریح شوي وي. په اوتریش کې ډېر خلک یو سپی، یو پیشو یا نور ساتل شوي حیوانات لري. که څوک د چا ساتل شوي حیوان خوږ کړي یا ورسره بد چلند وکړي نو مالکان یې ښایي پولیسو ته زنګ ووهي. د حیواناتو په مالکانو هم لازمه ده چې یقیني کړي چې څاروي یې د ګاونډیانو مزاحمت ونکړي. هغه څاروي چې داسې ښکاري چې مالک یې نه معلومېږي باید خوږ نکړی شي او نه ورسره بد چلند شي.
- د سیخانو پخولو په اړه هم اصول او قواعد شته. معلوم کړئ چې په بالکون یا باغ کې د سیخانو پخولو اجازه شته. که اجازه یې وي نو په تاسو لازمه ده چې د ګاونډیانو خیال وساتئ.

## د استراحت ساعتونه او د شپې د وخت پراوونه

په اوتریش کې د استراحت او د شپې د استراحت ساعتونه دي، د کومو چې باید پابندي وشي. ددې ساعتونو پر مهال په شور جوړوونکو فعالیتونو د نورو خلکو د مزاحم کېدلو اجازه نشته. د شپې د استراحت ساعتونه عموماً د ماښتن لسو بجو نه تر سهار شپږو پورې وي. د استراحت ساعتونه عموماً د ماښام د اتو بجو نه د ماښتن تر لسو او د سهار د شپږو بجو نه تر اوه یا اته بجو پورې

# کور او ښه ګاونډیتوب

- د ښه ګاونډ د تعلقاتو په ګټه دا خبره مهمه ده چې ټول ګاونډیان د یو بل سره ښه چلېږي، یو بل سره په احترام چلند کوي او په اصولو عمل کوي.
- ډېر ګاونډیان په ورځني ژوند کې یو بل سره مرسته کوي. دا د ښه ګاونډیتوب په تعلق کې مرسته کوي او ښیي چې تاسو د نورو خیال ساتئ.

## پېژندګلوی

په اوتریش کې د کورونو لپاره پراخ مواقع شته او د کورنیو وضعیت هم له یو بله توپیر کوي. د بېلګې په توګه یو امکان د یو اپارتمان کرایه کول او یا په یو شریک فلیټ کې اطاق لرل. نو تاسو د اپارتمان یا فلیټ مالک ته هره میاشت یوه اندازه پیسې ورکوئ. یوه بله لاره د یو اپارتمان یا کور اخیستل دي. په دغه صورت کې تاسو مالک یاست او کور مو اخیستی.

ځیني خلک ډېرې کمې پیسې لري او له دې امله ورته کرایه ورکول مشکل وي. په داسې حالتونو کې او د ځینو خاصو شرایطو لاندې، ریاست ددې لپاره مالي مرسته کوي چې دا خلک کور ولرلی شي.





د لوم ن مرستې په کورس کې کولی شئ زده ک ئ چې ر ن ه مرسته وک ئ.

## وقایوي روغتیايي پاملرنه

وقایوي روغتیايي پاملرنه په اوتریش کې ډېره مهمه ده. تاسو په کال کې یو ځل د وقایوي معاینې حق لرئ. په دې معاینه کې معاینه کوونکی ډاکټر په وخت روغتیايي مشکلات معلومولی شي. ښځو او سړو ته دا غوښتنه هم کېږي چې په وخت نورې طبي معاینې وکړي. په دې طریقه د یوې جدي مریضۍ له پیله مخکې علاج کېدلی شي. په دې دلیل وقایوي روغتیايي پاملرنه اوتریش کې داسې مهم رول لري.

حامله ښځې او ماشومان تر پنځه کلنۍ هم د طبي معاینو موقع لري کومې چې په «Mutter-Kind-Pass» (مور-ماشوم-کتابچه) کې شاملې کړی شوي دي. ددې معاینو هدف ددې خبرې یقیني کول دي چې د حمل او د ماشوم د روغتیايي پرمختیا پرمهال مشکلات په وخت معلوم کړی شي.

یادونه

د خپل عمومي معالج/فامیلي ډاکټر نه پوښتنه وکړئ چې تاسو باید کومې باقاعده معاینې وکړئ. د صحتمند پاتې کېدو په اړه اړوند معلومات په لاندې لینک هم موندل کېدلی شي:
**bmg.gv.at/home/Schwerpunkte/Gesundheitsfoerderung_Praevention**
(ځینې برخې یې انګلیسي کې)





یادونه

مریضان د زر صحتمند کېدو لپاره ډېر ارام ته اړتیا لري. د اوتریش په شفاخانو کې د مریضانو پوښتنې ته ورتلونکي باید ددې احترام وکړي. په دې خاطر شفاخانو کې د مریضانو پوښتنې ته ورتګ لپاره ټاکلي وختونه دي. کله چې تاسو شفاخانه کې د فامیل د غړو یا دوستانو لیدلو ته ورتلل غواړئ او یا د مریض په توګه غواړئ چې څوک لیدلو ته درشي نو ددې وختونو پوښتنه وکړئ. دا خبره باید تل په ذهن کې وساتل شي چې په شفاخانو کې ډېر مریضان استراحت کول غواړي او د صحتمند کېدو لپاره دا په ارامه فضا کې کول غواړي. که ډېر پیوازان په یو وخت شفاخانې ته ورشي نو دا شایي هغه مریضان چې ارام کولو ته اړتیا لري پعذاب کړي.

کله چې تاسو دوا درمل ته اړتیا لرئ نو ډاکټر درته نسخه لیکي. دغه نسخه چې تاسو اوتریش کې هرې دواخانې ته ورکړئ نو د مریض د برخې د پیسو په ورکولو سره به دغه دوا ترلاسه کړی شئ.

## عاجلې شمېرې

یادونه

ځینې وختونو کې تاسو شایې له عاجل وضعیت سره مخ شئ او یا له یو داسې چا سره چې مرستې ته اړتیا لري. د نورو مرسته وکړئ!

دا مهمه ده چې جرائت وکړئ او د نورو مرسته وکړئ - دې ته مونږ «ملکي جرائت» وایو. د عاجل وضعیت په صورت کې لاندې شمېرو ته زنګ ووهئ:

دې شمېرو ته په تمام اوتریش کې وړیا زنګ وهل کېدلی شي. د سیمې کوډ ټکي لازم ندی. تاسو دې ایمرجنسي شمېرو ته په وړیا توګه د هرې تلیفون خانې او همدارګ د هر موبایل تلیفون څخه له سیم کارټ او کریډټ پرته زنګ وهلی شئ.

**امبولانس:........................................ 144**
**پولیس: ........................................... 133**
**اطفاییه:.......................................... 122**

**ایمرجنسي لاین**
**ښځو لپاره:...................... 555 222 0800**

**اروپایي ایمرجنسي لمبر: ..................112**
**(دې ته د اروپايي اتحادیې په ټولو غړو هیوادونو کې زنګ وهل کېدلی شي)**

# عمومي معلومات



کله چې د ډاکټر ليدلو ته ورځئ نو E-Card تل ځان سره يوسئ.

په اوتريش کې ډېرې ښې شفاخانې شته. کله چې خلک مريضان شي نو هغوی په عموم کې اول له عمومي معالج (يا فاميلي ډاکټر) څخه مشوره اخلي. زياتره وختونه دا ډاکټران مرسته کولی او ښه مشوره ورکولی شي. که ضرورې وي نو هغوی مريضان يو متخصص يا شفاخانې ته د مراجعې لپاره لېږي. شفاخانې ته څوک يوازې ته د عاجلې وضعې په صورت کې تللی شي. که داسې نه وي نو د ايمرجنسي د بهرنيو مريضانو وارډونه به ببخي ډک شي، ددې معنی به دا وي چې ټولو مريضانو لپاره به د انتظار اوږده ليستونه وي. د بهرنيو مريضانو ايمرجنسي وارډونه هغو مريضانو لپاره دي کوم چې په عاجلو وضعيتونو کې عاجلې او تېزې مرستې ته اړتيا لري. برسېره پر دې، عمومي معالجين زياتره وخت ستاسو د اوسېدو د ځای سره له نږدې شفاخانې زيات نږدې وي.

کله چې ډاکټر ته ورځئ نو تاسو بايد خپل E-Card (د روغتيايي بيمې کارت) ورته ښکاره کړئ او لازمه ده چې د روغتيايي پاملرنې بيمه ولرئ. دغه E-Card کارت تاسو ته د ټولنيزې بيمې د اداري لخوا درکول کېږي، چېرته چې تاسو ددې درخواست هم ورکولی شئ. دا د پوست له لارې لېږل کېږي. يو E-Card نه يوازې هغه تن استفاده کولی شي د چا په نوم چې جاري شوی وي. شخصي معلومات په E-Card کې محفوظ شوي وي. له هغه تن د چا په نوم چې دا جاري شوی وي پرته بايد بل څوک ددې څخه استفاده ونکړي. د فاميل غړي يا دوستان پرېښودل چې استفاده ترې وکړي، هر څو که تاسو ورسره فقط مرسته کول غواړئ، اجازه نشته. کله چې د خپل ډاکټر ليدلو ته ورځئ يا شفاخانه کې ياست تل خپل E-Card يوسئ او ښکاره يې کړئ. ټول معلومات چې ډاکټر ورته اړتيا لري په E-Card محفوظ شوي وي.

ددې سپارښتنه هم کېږي چې کله د ډاکټر ليدلو ته ورځئ نو ځان سره يو عکس لرونکی د هويت کارت هم يوسئ. د يو چا E-Card د هغه د شخصي بيمې د برخو ثبوت وي. دا ډاکټر په دې توانوي چې کومه تداوي او خدمتونه يې کړي وي د هغې صورتحساب د بيمې ادارو ته ولېږي. په ځينو کمو مواقعو کې د مريض لپاره اړينه وي چې د ځينو طبي معاينو مصارف جلا ادا کړي.







زمونږ د روغتيايي پاملرنې د سيستم د بوديجې اساس د ټيکسونو او ټولنيز تحفظ د ونډو د پيسو په ادا کولو دی.

دا خبره واضحه ده چې ښه طبي پاملرنه باندې پيسې لګي. په اوتريش کې دا لګښتونه د هغو ټيکسونو او د ټولنيز تحفظ له ونډو پوره کېږي چې د ټولو کارکوونکو خلکو لخوا ورکول کېږي. نو په دې دليل دا مهمه ده چې اوتريش کې هغه ټول خلک چې کار کولی شي په حقيقت کې کار وکړي. دا به راتلونکې کې ددې سيستم فعال ساتلو ته ادامه ورکول يقيني کړي.

ددې روغتيايي پاملرنې د سيستم لاندې چې کوم خدمتونه ورکول کېږي بايد په احتياط ترې استفاده وکړی شي. په همدې توګه، خلک بايد د خپل صحت پاملرنه هم وکړي. هر سړی او هره ښځه د خپل صحت مسووليت په غاړه لري او د صحتمند پاتې کېدو لپاره ډېر څه کولی شي.



د پالې او روغتيايي پاملرنې په مسلکونو کې د بېلګې په توګه زياتره وختونه خالي پوستونه وي او د وظيفې د لټون پر مهال په زياتو ژبو پوهېدل ښايي ګټور ثابت شي.

ډاکټران - او نور ټول هغه کسان چې د روغتيايي پاملرنې په مسلک کې کار کوي - په دې سکټور کې ځکه کار کوي چې هغوی ضروري استعدادونه لري. د هغوی دين او يا دا چې نارينه دي که ښځينه د هغوی له کار سره تړاو نه لري. مريضان بايد هغوی سره احترامانه چلند وکړي.

د المانی ژبې مهارتونه تل مهم دي، په ځانګړې توګه د روغتيا او روغتيايي پاملرنې په برخه کې. په تاسو لازمه ده چې تل ډاکټرانو ته د خپلې مريضی دقيق علامات وواياست. که داسې نه وي نو هغوی به ونه توانېږي چې مناسبه تداوي مو وکړي.

# روغتیايي پاملرنه

- اوتریش یو ډېر ښه د روغتیايي پاملرنې سیستم لري، کوم چې یوازې په هغه صورت کې سم کار کولی شي تر څو چې په اوتریش کې خلک کار کوي او د ټیکسونو او د ټولنیز تحفظ د ونډو په ورکولو ددې سیستم مالیات پوره کوي.
- د روغتیايي پاملرنې په سیستم کې لومړنی تماس عموماً عمومي معالج (یا فامیلي ډاکټر) وي. دا مهمه ده چې تاسو ځان د روغتیايي پاملرنې د سیستم سره اشنا کړئ.
- دا مهمه ده چې تاسو د خپلې روغتیايي مسوولیت په خپل سر واخلئ او وخت په وخت د صحت وقایوي معاینې وکړئ.

## پېژندګلوی

د روغتیايي پاملرنې په سیستم کې خلک تل اول وي. په اوتریش کې هر څوک د ښې درجې طبي علاج ترلاسه کوي. دا مهمه نده چې تاسو له کومې ځایه راغلي یاست، دین مو څه دی، دا چې تاسو شتمن یاست که غریب یا دا چې تاسو سړی که ښځه یاست. هر څوک یو شان مرسته او پاملرنه ترلاسه کوي.



که تاسو نغدي پیسې ادا کړئ نو یو رسید (یا صورتحساب) به درکړل شي، په کوم چې لیکل شوي وي چې څه مو اخیستي او کله او چیرته مو اخیستي.

ددې لپاره چې بې نغدي (لکه په ډیبیټ کارت یا کریډټ کارت) پیسې ادا کړی شئ تاسو به یو بانکي حساب ته اړتیا ولرئ. کار ورکوونکي اکثر تمه لري چې تاسو به بانکي حساب لرئ کوم ته چې هغوی ستاسو معاش یا تنخواه انتقالولی شي.







ښځې په کار بازار کې، اوتریش کې د ژوند د نورو ټولو برخو په څېر، هماغه حقونه لري چې سړي يې لري.

اوتریش کې د کار په ځای کې او یا کله چې نوي کارمندان په کار ګومارل کېږي د تبعیض اجازه نشته. په نورو ټکو کې: دا مهمه نه ده چې تاسو له کوم ځایه راغلي یاست. کومه خبره چې مهمه ده هغه ستاسو تعلیمي استعدادونه، کار کولو ته ستاسو لېوالتیا او کارکردګی ته ستاسو ژمنتیا ده.

## د پیسو معامله

هغه پیسه چې په اوتریش کې کارول کېږي یورو ده. په اوتریش کې تاسو کولی شئ چې نغدي پیسې (لوټونه او سکې) ادا کړئ یا بې نغدي (په ډیبیټ کارت یا کریډټ کارت) ادا کړئ.

هغه خلک چې له خپلو کورونو تښتېدلي او تر اوسه يې د اوتريش په فلاحي سيستم کې ونډې نه دي ورکړې هم ښايي د رياست څخه مالي کومک ترلاسه کړي.  خو دا خبره بايد واضحه وي چې داسې افراد څومره ژر چې امکان لري کار پيلول غواړي.

## لازمي بيمه

لازمي بيمه د اوتريش د ټولنيز تحفظ سيستم اساس دی. ددې معنی داده چې د بيمې تعلق د ځينو خاصو حالتونو لاندې د قانون لخوا ټاکل شوی وي.

يو شمېر داسې اداري شته چې د افرادو بيمه کوي. دا خبره په قانون کې ټاکل شوې چې څوک به له کومې ادارې سره بيمه کېږي. د ټولنيز تحفظ د ونډو درجه د چا په روغتيايي حيثيت پورې نه بلکې د هغه په عايد پورې اړه لري.

د اوتريش د ټولنيز تحفظ د سيستم اساس د پيوستون په اصل دی. ددې معنی داده چې هر څوک د يو شان خدمتونو حق لري - پرته له دې توپيره چې دې سيستم کې يې څومره پيسې ورکړې.

## په کار بازار کې برابر مواقع او برابر چلند

در اتريش زنان و مردان در محيط کار هم از تساوی حقوق برخوردارند. ازاجازۀ ورود به تمام بخشهای آموزشی، دانش افزايي و پيشرفت کاری شامل آنان ميشود. بدين دليل مسلم است که زنان هم ميتوانند مقامات مديريتی و مهمی را داشته باشند. خيلی از زنان رئيس يا کارفرما و يا معلم در مدارس می باشند.

اوتريش له هر چا تمه لري چې دا برابري قبوله کړي او په داسې طريقه عمل وکړي چې د احترام پر اساس همکاري اسانوي او وده ورکوي. ددې تطبيق په ټولو خلکو کېږي، پروا نه کوي چې د هغوی شاليد، اصلي وطن، دين يا عقيده او سياسي مفکورې څه دي.







د اوتريش په کار بازار کې مرکزي تمرکز په کارکړدګی کېږي.

مهم: که تاسو ازاد کار کوئ نو د ټولنيز تحفظ ونډې مو بايد خپله ادا کړئ. په همدې توګه تاسو بايد د خپل عايد ټيکس ورکړئ او د ټيکس اظهارليک خپله داخله کړئ.  دا مهمه ده چې تاسو له دې خبر ياست چې مالياتي چارواکي ښايي په تاسو لازمه کړي چې د څو کلونو بقايه ټيکسونه ادا کړئ که هغه تاسو چېرته په وخت نه وي ورکړي.

عايد دوه رقمه دی، ناخالص او خالص عايد. خالص عايد هغه عايد دی چې ټيکسونه او د ټولنيز تحفظ ونډې ترې اخيستل شوې وي. د ټولنيز تحفظ په ونډو کې د روغتيايي پاملرنې بيمه، د پېښو بيمه، د بې روزګارۍ بيمه او د تقاعد بيمه راځي.

هغه کسان چې يو څه خاص موده کار وکړي او بيا وظيفه له لاسه ورکړي د رياست څخه مالي ملاتړ ترلاسه کوي. رياست په دې توګه د خلکو د مالي زندګۍ حفاظت کوي تر څو چې يوه نوې وظيفه پيدا کړي. ددې فوايدو د ورکول کېدو لپاره شرط دادی چې هغه کسان چې اغېزمن شوي بايد له ځنډ پرته د نوې وظيفې د پيدا کولو لپاره هره هڅه وکړي. د کار بازار سرويس (Arbeitsmarktservice, AMS) خلکو سره د کار په لټولو کې مرسته کوي. نو په دې توګه هغو کسانو لپاره چې اغېزمن شوي مطلق ضروري ده چې د کار بازار سرويس سره په سمه توګه همکاري وکړي.

محصولات او د ټولنیز تحفظ ونډې ددې سیسټم د فعال ساتلو امکان برابروي. ریاست همدارنګه خلکو سره کومک کوي چې عاجلو وضعیتونو کې ورته اړتیا لري.

کامیاب ادغام ددې معنی لري چې خلک توان لري چې خپل مصارف خپله پوره کړي او د ریاست نه کومک ته ضرورت ونلري. هر هغه څوک چې د ریاست په کومک نوي تعلیمي استعدادونه ترلاسه کړي یو مسوولیت هم پکې لري.

دغه تن باید له خپلو تعلیمي استعدادونو په کار بازار کې استفاده وکړي. دا د هغه کومک په بدل کې چې دوی له ریاسته ترلاسه کړی او د ټولنې د ګټې لپاره.

د اوتریش په کار بازار کې د تبعیض ټولې بڼې منع دي. دا یو داسې حقیقت دی چې په هر چا یې قبلول لازم دي - کوم اکثریت نفوس چې دی او هغوی چې نوي اوتریش ته راځي په دواړو.

## د روزګار مختلفې بڼې

په اوتریش کې د کار روزګار ګڼ شمېر بڼې دي. تر ټولو ډېر عام توپیر ددې دواړو ترمنځ کېږي: وظیفه او ازاد کار.

وظیفه: هغه کسان چې په وظیفه ګومارل شوي یو رییس او/یا کارفرما لري. هغه تن چې کار کوي کارمند بلل کېږي. کارفرما او کارمند یو د وظیفې قرارداد جوړوي. په دې قرارداد کې د کارفرما او کارمند دواړو حقونه او مکلفیتونه یادداشت نیول کېږي. دې کې داسې جزییات شامل وي لکه د بېلګې په ډول د کارمند د هفتې کاري ساعتونه او د رخصتی ورځې. کاري ساعتونه ښايي چې مختلف وي او قواعد یې د وظیفې په قرارداد کې لیکل شوي وي. هر هغه نفر چې کار کوي او پیسې ګټې پرې لازمه ده چې ټیکسونه او د ټولنیز تحفظ ونډې ادا کړي. ټیکسونه او د ټولنیز تحفظ ونډې د کارمند له معاش یا تنخوا نېغ په نېغه اخیستل کېږي.

ازاد کار: هغه کسان چې ازاد کار کوي ډېرې لاربې لري - هغوی کولی شي چې یو کاروبار یا مهارت راجستر کړي یا خپل عاید د کار/خدمتي قراردادونو له لارې جوړ کړي او یا د فیسونو له لارې چې د خپل کار/خدمت لپاره یې اخلي.







تخنیکي مسلکونه او اداره د ښځو او سړو دواړو لپاره پرانیستي دي.

د اوتریش په کار بازار کې مرکزي تمرکز په کارکردګی کېږي.  کوم څه چې حسابېږي هغه ستاسو شخصي ونډه ده، ستاسو شالید، دین یا عمر، او یا دا خبره چې تاسو سړی که ښځه یې کوم توپیر نه لري. کوم څه چې حسابېږي هغه د هر ښځې او سړي فرد لخوا ترسره شوې ونډه ده.

ټولو خلکو لپاره او په ټولو وختونو کې یو شان، شفاف مواقع برابرول یو داسې مهم هدف دی چې اوتریش یې تعقیبوي.

اوتریش یو د ټولنیز بازار اقتصاد لري. ټولنیز عدالت او ټولنیز برابری اوتریشیانو لپاره مهم دي. کارکردګي هغه بنیاد دی چې په کوم چې پیوستون تعمیر شوی دی.

دا ریاستي سیسټم یوازې تر هغه وخته فعال ساتل کېدلی شي چې هر هغه نفر چې کار کولی شي په حقیقت کې کار وکړي او په دې سیسټم کې پیسې ورکړي. په نورو ټکو کې: په اوتریش کې باید ټول کارکوونکي خلک ټیکسونه، محصولات او د ټولنیزې بیمې ونډې ادا کړي. د ریاست لخوا ټولې کړی شوې دا پیسې ریاست په دې توانوي چې خپل کارونه سر ته ورسوي. ریاست په دې توګه ډېرې پیسې مصرفوي، د بېلګې په توګه په ورکتونونو، مکتبونو، روغتونونو او یا اوتریش کې به حفاظت او امنیت. د ټیکس هغه رقم چې باید ادا کړی شي اتکاء یې د عاید په درجه دی. په دې توګه ټیکسونه،

# د کار بازار او اقتصاد

- د ټولنيز ادغام يو مهم هدف ددې توان ترلاسه کول دي چې خپل مصارف پوره کړئ او د رياست مالي مرستې ته ضرورت پېښ نشي.
- د مالي خودکفالتی ترلاسه کولو لپاره خلکو ته ضروري ده چې اقدام وکړي او د خپلو مهارتونو او تعليمي استعدادونو څخه په پوره فعاليت سره استفاده وکړي.
- په اوتريش کې د ټولو کارکوونکو او هغوی ته د کار ورکوونکو ارزونه د هغوی د انفرادي کارکردګی په اساس کېږي.

## پېژندګلوی

په دې خبره پوهېدل مهم دي چې اقتصاد او د اوتريش فلاحي نظام په کرار کرار او ډېر وخت کې غښ شوي او پرمختيا يې کړې ده. د هغوی اساس د خو نسله اوتريشيانو په سخت کار او مخلصانه هڅو دی. اوتريش غواړي چې دغه اقتصادي او ټولنيز معيارونه برقرار وساتي او - هرکله چې امکان ولري - دا لا پسې بهتر کړي. له دې امله دا ډېره مهمه ده چې هر فرد ددې هدف د ترلاسه کولو په لور خپله ونډه ترسره کړي.



ښځې هم کولی شي چې په پوهنتون کې هر مضمون غواړي هماغه ووايي. په عموم کې داسې وي چې جينکو او هلکانو ته په يو صنف کې شريک درس ورکول کېږي. نو ښکاره ده ددې معنی داده چې جينکۍ او هلکان بايد ټول مضمونونه ووايي (د مثال په ډول د حساب، الماني او سپورټ درسونه). يوه استثناء ديني لارښوونه ده، د کومې چې د ماشوم د دين په تړاو انتخاب کېدلی شي. خو د موروپلار ديني يا کولتوري عقايد هيڅکله د دې دليل نشي کېدلی چې ماشومان د مکتب په مضمونونو او د مکتب په فعاليتونو (لکه د سپورټ د درسونو پر مهال د لامبو کولو په درسونو کې له ګډون کولو منع کړي.

## خارج کې د ترلاسه شوو استعدادونو پېژندنه

ډېرو مهاجرو په خپل اصلي وطن کې مکتب ويلی وي يا يې کوم مسلک زده کړی وي. نو په دې توګه دوی اوتريش ته له راتګه مخکې تعليمي استعدادونه لري. د اوتريش په کار بازار کې دغو نه په استفادې کولو سره دوی د اوتريش د اقتصاد په فعاليت کې خپله کاري ونډه ترسره کوي.

**يادونه**

په اوتريش کې خوک اتوماتيک د کوم مسلک کار نشي کولی. د هغو مسلکونو، هنرونو يا پيشو چې اوتريش کې په رسميت پېژندل کېږي او هغو چې په رسميت نه پېژندل کېږي په اړه اړوند معلومات دلته ترلاسه کېدلی شي: **www.berufsanerkennung.at**





**يادونه**

دا مهمه ده چې که ستاسو د الماني ژبې مهارتونه مکمل نه وي خو بيا هم د موروپلار ماښامونو او د موروپلار-استاذاو ملاقاتونو/کنفرانسونو ته لاړ شئ. دا ډېره مهمه ده چې تاسو د خپل ماشوم د استاذ او يا د ورکتون د استاذ سره ووينئ. هغوی غواړي او تمه لري چې تاسو به د خپل ماشوم په تعليم کې همکاري کوئ او علاقه به ورسره لرئ او د ماشوم سره به مو کومک کوئ.

**يادونه**

د خپل ماشوم د ورکتون او/يا مکتب له استاذانو سره په خپله خبرې وکړئ. خپل ماشوم ته مه وايئ چې تاسو لپاره ترجماني وکړي. که تاسو په دې يقيني نه ياست چې د استاذانو په خبره سم پوهه شوي ياست که نه نو بيا ترې پوښتنه وکړئ. د ورکتون او مکتب استاذان به تاسو په خوشحالۍ مرسته وکړي.

## په تعليم کې جنسي برابری

په اوتريش کې جينکۍ او هلکان په تعليمي سيستم کې يو شان حقونه او مکلفيتونه لري. هغوی ازاد دي چې يو شان مکتبونو ته لاړ شي او هر مسلک چې هغوی ورسره علاقه لري تعقيب کړي. طبعاً،



بطورکل پسران ودختران دراتریش باهم تعليم می بينند.

### لازمي مکتب ویل

په اوتریش کې مکتب ویل لازمي دي. ماشومان باید نهه کاله مکتب ته لاړ شي. دا په هغو ټولو ماشومانو تطبیق کوي چې عمرونه یې له شپږو تر پینځلسو دي، پروا نه کوي که جینکۍ وي که هلکان. په اوتریش کې جینکو او هلکانو ته په عموم کې په یو صنف کې شریک درس ورکول کېږي.

که ماشومان مکتب ته او یا یو کال لازمي وړکتون ته لاړ نشي، نو د هغوی موروپلار/حقوقي سرپرستان د جدي حقوقي نتایجو سره مخ کېږي، لکه په واضح ډول تشریح شوي جریمې او جزاوې.

### د همکارۍ کولو مکلفیت

موروپلار باید له مکتبونو او وړکتونونو سره همکاري وکړي تر څو خپل ماشومان د یو ښه تعلیم په ترلاسه کولو وتوانوي. ددې مقصد لپاره وړکتونونو او مکتبونه د مورو‌پلار ماښامونه او د مورو‌پلار-استاذانو ملاقاتونه/کنفرانسونه انتظاموي. مورو‌پلار لپاره مهمه ده چې وړکتون/مکتب کې په دې او نورو غونډو کې ګډون وکړي. دا مورو‌پلار ته موقع ورکوي چې استاذانو او نورو مورو‌پلارانو سره ووینې او خبرې ورسره وکړي.





مکتب ویل جینکو او هلکانو لپاره لازمي دي.





## د بالغانو تعلیم

اوتریش کې د تعلیم دروازه یوازې د ماشومانو او ځوانانو لپاره نه ده پرانیستې. بالغان هم ډېر مواقع لري چې خپلو مهارتونو او پوهې ته پراختیا ورکړي. تش د ژبې د درسونو نه زیات نور ډېر څه شته. د بېلګې په توګه بالغان کولی شي چې خپل تعلیم وروسته په داسې وخت کې چې د کار بازار ته داخل شوي وي بشپړ کړي. ګڼ شمېر عامه او خصوصي روزنیزې او تعلیمي اداري شته. هغه خلک چې زده کړه کول غواړي اوتریش ورته د مواقعو یوه سلسله وړاندې کوي. هر سړی او ښځه باید له دې مواقعو کار واخلي تر څو له خپل استعداده زیات نه زیات کار واخلي. ستاسو راتلونکې کامیابي ستاسو په لاسونو کې ده.

## حقونه او مکلفیتونه

### د وړکتون لازمي حاضري

په اوتریش کې تعلیم له ابتدایي مکتبه مخکې پیلېږي. ټول ماشومان چې عمرونه یې پنځو نه تر شپږو وي باید یو کال لپاره وړکتون ته حاضر شي. اکثریت ماشومان وړکتون د پنځه کلنۍ نه مخکې پیلوي. په اوتریش کې داسې اداري شته چې د ډېرو کم عمره ماشومانو ډېره ښه پاملرنه کوي، په دې توګه مور او پلار یې په دې توانوي چې ژر خپل کار ته ستانه شي. د بېلګې په توګه نرسریانې، د ماشومانو خصوصي پالنه او یا کور کې ورځنۍ پاملرنه کوونکې شته. ماشومان کولی شي چې اوتریش کې د ډېر کم عمر نه وړکتون ته لاړ شي. وړکتون په اوتریش کې اولنۍ تعلیمي اداره ده. د پینځم کال نه په ټولو ماشومانو لازمه ده چې وړکتون ته لاړ شي. خو دا ماشومانو لپاره ډېره ګټوره ده چې دې نه کم عمر کې وړکتون پیل کړي. د وړکتون د استاذانو او نورو ماشومانو سره به د هغوی تماس ورسره ژر د الماني په زده کولو او انډیوالانو جوړولو کې مرسته وکړي.

**یادونه**

ډېر وړکتونونه ځانګړي پروګرامونه وړاندې کوي تر څو ماشومان په دې وتوانوي چې د الماني ښه پوهه ترلاسه کړي. د خپلو ماشومانو د وړکتون له استاذانو سره په دې اړه خبرې وکړئ چې تاسو خپلو ماشومانو سره د الماني په زده کړه کې څه مرسته کولی شئ. هغوی به تاسو ته په خوشحالۍ مشوره درکړي.

## د اوتریش تعلیمي سیستم




زده کړه او د مهارتونو ترلاسه کول اوتریش کې خلکو لپاره ډېر مهم دي. له مکتبه پرته تاسو په کور، د فامیل دننه، له دوستانو او که چېرته ستاسو عمر زیات وي نو بیا هم زده کړه کولی او مهارتونه ترلاسه کولی شئ.

# په اوتریش کې حرفوي تعلیم: د حرفوي شاګردۍ ټرېنګ

د حرفوي شاګردۍ د ټرېنګ پر مهال ځوانان یو حرفوي مکتب ته د حاضرېدو په حال کې یو مشخص مهارت یا مسلک زده کوي. د حرفوي شاګردۍ د ټرېنګ په اخر کې هغوی یو امتحان ورکوي (د حرفوي شاګردۍ امتحان). په امتحان کې کامیاب کسان باهنره کارکوونکی جوړېږي (ځینې







د حرفوي شاګردی ټرېنګ د اوتریش په تعلیمي سیستم کې یو ځانګړی حیثیت لري.

وخت کې ورته ماهر کارګر واېي). د حرفوي شاګردی ټرېنګ د 2 نه تر 4 کلونو وخت نیسي. ځوانان د لازمي مکتب (تر پنځلس کلنی پورې) له بشپړولو وروسته کولی شي چې د حرفوي شاګردی ټرېنګ ته لاړ شي او کولی شي چې په شاوخوا 250 مختلفو مسلکونو کې ټرېنګ ترلاسه کړي.

**سرو او ښځو لپاره په دغو ماهرانه مسلکونو کې دا شامل دي:**

- اشپز
- نانبايي
- ترکاڼ
- میخانیکي انجینر (د میخانیک او الکترونیک ګډوالی)
- روزل شوی پرچون فروش
- خښتې ایښودونکی

یادونه

د ماهرانه مسلکونو یو لیست په دې لینک **www.berufskompass.at** (الماني کې) ترلاسه کېدلی

# ژبه

په اوتريش کې ملي ژبه الماني ده. ددې معنی داده چې الماني نورو سره په خبرو اترو کې کارول کېږي. په الماني ژبه پوهېدل په رسمي ژوند کې (د بېلګې په توګه په مکتب کې، د ډاکټر په ځای کې او چارواکو سره په تماس کې) په ځانګړي ډول مهم دي. په دې دليل دا ډېره مهمه ده چې په تېزۍ سره الماني ښه زده کړئ.

د الماني درسونو ته حاضرېدل ګټور دي. د يوې ژبې د زده کولو تر ټولو بهترينه لاره اوتريش کې نورو خلکو سره ډېرې خبرې کول او په دې طريقه د ژبې مهارتونه تمرينول دي. په دې اړه کوم ډار چې ګوندې د الماني پوهه به دې کافي نه وي او يا د غلطيو کولو وېره بې اساسه خبرې دي. زياتره خلک به تاسو سره صبر کوي ځکه چې هغوی ليدلی شي چې تاسو خپل کوښښ کوئ او له خپل پوره وسه کار اخلئ.

یادونه

تاسو په الماني کې د خپلو مهارتونو تمرين خپل ځان سره هم کولی شئ. ځينې ګټور مواد به تاسو د اوتريش د ټولنيز ادغام د بوديجې په دې ويبسايټ پيدا کړئ: **sprachportal.integrationsfonds.at**



د الماني درسونو ته حاضري اوتريش کې د يو کامياب ژوند د ترسره کولو لپاره مهم دي.





# پېژندګلوی

اوتريشيانو لپاره تعليم ډېر مهم دی. هره ښځه او هر سړی تعليم ته لاسرسی لري او ښه تعليم ترلاسه کوي - پروا نه کوي که د هر عمر، شالید، اصليت يا مالي وضعيت څخه وي. هر نفر يو شان مواقع لري. د اوتريش د عامه مکتبونو مالي چارې د اوتريش د رياست لخوا ورکول کېږي.

ښه تعليم خلکو سره د ښه ژوند په کولو کې مرسته کوي. ښه تعليم تاسو په دې توانوي چې مهمو پوښتنو سره مقابله وکړئ. تاسو همداراز دا توان پيدا کوئ چې مسلې په پرانستې او پوهه طريقه حل کړئ او په پراخ سياق و سباق کې انتقادي فکر وکړئ.

هغه استعدادونه چې ترلاسه يې کړئ بايد د کار په چاپېريال کې ترې استفاده وشي. دا په هر چا تطبيقېږي: سړي او ښځې، پروا نه کوي چې هغوی د هر ځای نه راغلي وي او که هر څومره پيسې ورسره وي. هر نفر بايد په کار بازار کې د خپلو مهارتونو نه تر بهتر امکاني حده استفاده وکړي.

يوازې په هغه صورت کې چې تر امکاني حده زيات خلک اوتريش کې ګټور کار تعقيب کړي او ټيکس، محصولات او د ټولنيزې بيمې ونډې ورکړي نو د لوړ معياري تعليم دا سيستم روان پاتې کېدلی شي او زموږ ماشومان هم په دې توانېږي چې د بهتر تعليم نه ګټه واخلي.

داسې واضح قواعد او مکلفيتونه شته چې په دې تعليمي سيستم کې يې ټول اطاعت وکړي. ورکتون او مکتب ته تلل لازمي دي. ددې معنی داده چې ماشومان بايد د يو خاص عمر څخه ورکتون او مکتب ته لاړ شي. په مکتب کې يا د مکتب قواعد شته چې ټول ماشومان پرې بايد پوه شي او اطاعت يې وکړي. په دې قواعدو ټينګ پاتې کېدل او اړوند مکلفيتونه پوره کول د ورځنې او کاري ژوند په ټولو اړخونو کې د راتلونکي لپاره مواقع پرانيزي.

د ژوند په نورو ټولو برخو کې ښځې او سړي د اوتريش په تعليمي سيستم کې برابر حقونه لري. نو په اوتريش کې دا طبعي خبره ده چې ښځې د ورکتون د استاذانو، د مکتب د استاذانو يا د پوهنتون د پروفيسرانو په اړه کار کوي او/يا په تعليمي سيستم کې نور مهم منصبونه لري.

# د ژبې او تعليم اهميت

- اوتريش کې د نوکرۍ پيدا کولو او د ورځني ژوند د مقابلې لپاره د المانۍ ژبې مهارتونه ډېر مهم دي.
- اوتريش ښه تعليمي مواقع لري، لکه زده کړه کول او مهارتونه او استعدادونه ترلاسه کول. تعليمي سيستم د ټولو په وړاندې خلاص دی. د تعليم مالي چارې په عموم کې د اوتريش د رياست لخوا ورکول کېږي.
- اوتريشيانو لپاره تعليم ډېر مهم دی. په اوتريش کې سړي او ښځې تعليم ته يو شان لاسرسی لري.
- ماشومان بايد اوتريش کې مکتب ته لاړ شي. مورو‌پلار بايد دا خبره يقيني کړي چې ماشومان يې مکتب ته لاړ شي، درسونو ته حاضر شي او د هغوی د مکتب په چارو کې ورسره کومک وکړي.



د اوتریش ټول اتباع ددې خبرې د یقیني کولو لپاره کار کوي چې دا اصلونه په عمل کې وساتل شي. هر نفر په دې حواله یوه وظیفه او مسوولیت لري او باید چې په اوږد مهال کې د کامیاب شریک ژوند د توان پیدا کولو لپاره خپله ونډه ترسره کړي. دا په هر تن چې اوتریش کې ژوند کوي تطبیقېږي پروا نه کوي چې د هغوی شالید، اصلیت، ژبه، دین یا کولتور څه دی. په اوتریش کې د کامیاب شریک ژوند یقیني کول به یوازې هغه وخت امکان ولري چې هر څوک له خپلو مواقعو ګټه پورته کړي او مثبت ونډه ترسره کړي.





په اوتریش کې شاوخوا 8.5 ملیونه خلک ژوند کوي. په دوی کې تقریباً 1.5 ملیون په بل کوم هیواد کې پیدا شوي دي. په دې توګه د اوتریش هر شپږم اوسېدونکی مهاجر دی. دا ښيي چې اوتریش څومره نړیوال او متنوع شوی دی.

د اوتریش د تاریخ تور باب دې ته تغیر ورکړ. داسې شیان باید بیا هیڅکله پېښ نشي. اوتریش د خپل تېر وخت نه زده کړه کړې ده. په دې دلیل لاندې اصلونه په ځانګړې ډول مهم دي او خبرې پرې نشي کېدلی. هر هغه څوک چې په اوتریش کې ژوند کوي باید دې اصلونو ته غاړه کېږدي او خپله ونډه پکې ترسره کړي:

- د سولې ساتنه
- د بنیادي او بشري حقونو احترام کول (وګورئ 9، 53، او 54 مخونه)
- د دموکراتیکو او د قانون د حاکمیت د جوړښتونو حفاظت کول، د اساسي قانون او قوانینو اطاعت کول
- د سیاسي او اقتصادي ثبات په لور خپله ونډه ترسره کول
- د تعلیم، روغتیایي پاملرنې او ټولنیزو سیستمونو روان ساتل
- د طبعي سرچینو څخه په احتیاط استفاده کول او د چاپېریال ساتنه کول.



اوتریش کې خلک یو بل سره په سوله کې شریک ژوند کوي.



د اوتریش د ریاستي توافقنامې لاسلیکول



ویانا کې د سینټ سټیفن کتیډرال

اوتریش ته د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال ډېر زیات زیان رسېدلی و او ددې خلکو سترې هڅې کړې وې چې اوتریش بېرته د یو خپلواک، سوله ییز ریاست په توګه جوړ کړي.

اوتریشیانو په ډېر زیات سخت کار، هڅه او کوشش خپل هیواد بېرته جوړ کړو. په کرار کرار اقتصادي وضعیت بهتر شو.

بالاخر خلکو د اوتریش په راتلونکي یقین کول پیل کړل. نن خلک بیا په دې افتخار کوي چې د اوتریش دي.

د اوتریش اقتصادي بریالیتوب دا معنی هم لرله چې ډېر خلک د اطرافو نه ښار ته کډه شول. ډېر له خارجه هم اوتریش کې کار کولو ته راغلل. عصري شرکتونه، صنعتي کارخانې او کاروبارونه جوړ کړی شول. دا مثبت اقتصادي پرمختګ د اوتریش د سخت کار کوونکو سړو او ښځو په برکت ممکن شو. په دې کې هغه ډېر مهاجر شامل دي کوم چې د اوتریش په سوکالۍ کې خپله ونډه ترسره کوي.





یهودان، روما او سینتي، د سلوانیایي او چیکي اقلیت غړي، د عیسوي کلیساو پلویان او پادریان، همجنس پرستان، معیوبین او معلولین او د ملي سوشلزم سیاسي مخالفین شامل وو. په ملیونونو خلک ددې دیکتاتورۍ ښکار شوي او مړه شوي وو. په هغه وخت کې له بده مرغه ډېرو اوتریشیانو د اډولف هټلر ملاتړ کاوه. دغه کلونه زمونږ د هیواد په تاریخ کې تر اوسه پورې له ټولو زیات تور باب دی.

## د ملي سوشلیزم د ممانعت قانون

ددې وحشتناکو پېښو د شالید په مقابل کې اوتریش د ملي سوشلیزم د ممانعت قانون خپل کړی او تطبیقوي یې. هر څوک چې د هر ډول ملي سوشلستي سازمان (NSDAP,SS,SA وغیره) د بیا جوړولو هڅه وکړي او یا په هره بڼه د دغه ډول سازمانونو او یا د هغوی اهدافو د مرستې عمل وکړي د زندان جزا به ورکول کېږي. په دې توګه، په هغو سازمانونو بندېز دی چې ددغه ډول نازي سازمانونو د جوړول هدف تعقیبول غواړي. ددې تر څنګ په دې هم بندېز دی چې نور خلک ددې ډول سازمانونو د اهدافو تعقیبولو ته تشویق کړی شي (عموم کې په چاپي، نشراتي یا نورو رسنیو کې د غوښتنې له لارې). په همدې توګه، د ملي سوشلستانو د جنایاتو په کم ګڼلو یا ترې انکارو کولو بندېز دی.

د ملي سوشلزم د ممانعت قانون په دې خاطر خپل کړی شوی و چې د نازي ترورستي رژیم د هر تکرار مخنیوی وشي. د زیاترو هغو جنایتونو چې د اډولف هټلر د رژیم پر مهال ترسره شوي وو کم ګڼل، ارزښت یې کمول یا ترې انکار کول هغه څه دي چې د همدغه ډول یا ترې بدترو پېښو په لور لومړی قدم ګڼل کېږي د کوم چې باید لومړي سر کې مخنیوی وشي. په دې توګه د ملي سوشلزم د ممانعت قانون غواړي دا خبره یقیني کړي چې بیا به هیڅکله ددې مفکورې چې له انسانیته کرکه کوي لپاره پروپاګند ونشي.

نازي المان په 1945 کې تسلیم شو. دویمه نړیواله جګړه د امریکا متحده ایالاتو، برتانیې، فرانسې او شوروي اتحاد ګټلې وه. د 1945 او 1955 ترمنځ دې څلورو فاتحو ځواکونو اوتریش په څلورو اشغالي زونونو ویشتل شوی و. خو دموکراتیکې ټاکنې حتی 1945 راپدېخوا ترسره کېدلې. اوتریش یوازې په 1955 کې بشپړه ازادي ترلاسه کړه، یو خپلواک، بې طرفه ریاست جوړ شو. له جنګ وروسته ډېرو خلکو کور یا وظیفه نه لرله. خوراکي مواد ډېر کم وو او جنګ هیواد په کنډرو بدل کړی و.

# تاریخ او په اوسني اوتریش یې اغېزې

**یادونه:** لاندې باب د اوتریش د منتخب تاریخ یوه بېخي لنډه عمومي کتنه وړاندې کوي. تمرکز یې په دویمه نړیواله جګړه او اوتریش لپاره یې د هغې په نتایجو دی. دا مثال قصداً غوره کړی شوی تر څو دا حقیقت تشریح کړی شي چې په اوتریش تېرو وختونو کې ډېر دردناکې تجربې تېرې شوې، د کومو نه چې خلک په اوتریش کې نن هم خبر دي. په عین حال کې دا باب هغه سبقونه چې ددې تورې دورې نه زده کړی شوي او هغه پایلې چې اوتریش اخیستي تشریحوي: یانې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د یو سوله ییز، ازاد او دموکراتیک اوتریش بنیاد ایښودل او دا خبره یقیني کول چې دا راتلونکي لپاره په ټولو شرایطو کې همداسې پاتې شي.

> **یادونه**
> که تاسو د اوتریش د تاریخ په اړه نورې زده کړې سره علاقه لرئ، نو تاسو نور تفصیلي معلومات د بېلګې په توګه په **www.staatsbuergerschaft.gv.at** پیدا کولی شئ.

د پېړیو په اوږدو کې په اروپا کې ډېرې جګړې او انقلابونه راغلي. خلکو د زمکې، اقتصادي اثر و رسوخ، دین، ازادۍ، د اتباعو د حقونو وغیره لپاره جنګونه کول. هغه دموکراتیکې ازادۍ او د بشري حقونو لوړ معیارونه چې مونږ یې نن لرو په تاریخ کې د یوې اوږدې پروسې نتیجه ده. نن، ازادي، امنیت او بشري کرامت په اوتریش کې د ژوند ځانګړنې دي. خو ډېر وخت لپاره خبره داسې نه وه. په دې دلیل خلک په اوتریش کې ازادۍ، حفاظت او امنیت ته ځانګړې اهمیت ورکوي کوم چې لازماً باید د راتلونکي لپاره وساتل شي او ترلاسه کړی شي. هر څوک چې په اوتریش کې ژوند کوي باید ددې شریک هدف په لور خپله ونډه ترسره کړي.

دومره لیرې خبره نده په شلمه پېړۍ کې دوه نړیوالې جګړې شوې وې چې په اروپا کې ترسره شوې وې. د دویمې نړیوالې جګړې (1939–1945) پر مهال اوتریش د ملي سوسیالستي (نازي) المان برخه و. د نازیانو په دوره کې «اوتریش» وجود نه لرلو. د «اوتریش» ریاست او «اوتریش» نوم دواړو وجود ختم شوی و.

په نازي المان د دیکتاتور اډولف هټلر لخوا حکومت کېده. د هغه په دیکتاتورۍ کې د خلکو ځینې خاص ډلې په سیستماتیکه توګه محکوم شوي او وژل شوي وو - چې په هغوی کې د نورو تر څنګ





# عمومي معلومات

اوتریش یو دموکراتیک فدرالي ریاست او پارلیماني جمهوریت دی.

- اوتریش ټوله تقریباً 84,000 مربع کیلومیتره منطقه لري.
- اوتریش شاوخوا 8.5 ملیونه اوسېدونکي لري.
- اوتریش له نهه فدرالي ولایتونو جوړ دی چې هر ولایت یو مرکز ښار لري.
- د اوتریش چارچاپېر اته ګاونډي هیوادونه دي.
- اوتریش د اروپایي اتحادیې (EU) غړی دی.
- اوتریش کې رسمي او تر ټولو مهمه ژبه الماني ده.
- اوتریش کې د پیسو واحد یورو (€) ده.

## اوتریش له نهو فدرالي ولایتونو جوړ دی





# عمومي کتنه

- ب• هغه حقایق او ارقام چې تاسو ترې اوتریش کې د ژوند پر مهال باید خبر یاست.
- د اوتریش د تاریخ علم هم اوتریش کې د کامیاب شریک ژوند په اړه ډېر گټور دی.

مونږ غواړو چې تاسو سره اوتریش کې د ژوند پیلولو لپاره تر امکاني حده بهتره مرسته وکړو. دا سند به تاسو ته اوتریش کې د ټولنیز نظم په اړه ابتدایي لارښوونه او مهمه عمومي کتنه وړاندې کړي - یو داسې ټولنیز نظم چې تاسو یې باید اطاعت وکړئ.

**اوتریش زمونږ ټولنه کې ستاسو مثبتې ونډې ته ښه راغلاست وایي او مونږ غواړو چې په دې حواله درسره کومک وکړو. مونږ اوتریش کې ستاسو د راتلونکي ژوند لپاره تاسو ته هر بریالیتوب غواړو.**

Ilan Knapp
Karin Kneissl
Christian Stadler





### 2. د مسلکي استعدادونو ترلاسه کول او کارول

په اوتریش کې مونږ تمه لرو چې خلک مسلکي استعدادونه ترلاسه کړي او بیا د کار له لارې د خپل ژوند مالي چارې حل کړي. له دې امله، کار بازار کې د بریالیتوب د ترلاسه کولو لپاره په تاسو لازمه ده چې پاخه استعدادونه ولرئ کوم چې تاسو د تعلیم او ټریننګ له لارې ترلاسه کوئ. د ترلاسه شوو مهارتونو او استعدادونو کارول به تاسو په دې وتوانوي چې د خپل ځان او خپل فامیل لپاره یو په مالي توګه باثباته ژوند جوړ کړئ. ځینې خلک ښایي په دې (نور) ونه توانېږي چې خپل ځان ته عاید پیدا کړي. که هغوی مرستې ته اړتیا ولري، نو هغوی ریاست ته د کومک لپاره مخ اړولی شي. خو په اوتریش کې دا پیوستون یوازې په هغه صورت کې چلېدلی شي چې کوم خلک د کار لپاره جوړ دي هغوی اصلاً کار وکړي او ټیکس، محصولات او د ټولنیز تحفظ پیسې ادا کړي، تر څو دا خبره یقیني شي چې دا سیستم په دوامي توګه فعالیت کوي. نو له دې امله تاسو هم باید څومره ژر چې کېدلی شي د کار په پیدا کولو دې سیستم کې خپله برخه ورکړئ.

### 3. په بنیادي او بشري حقونو پوهېدل، د رول ماډل په توګه کار کول

**بنیادي او بشري حقونه د اوتریش د حقوقي سیستم بنسټونه دي.**

دوی د بشري کرامت پر اساس زمونږ هیواد کې په سوله یو بل سره ژوند کول یقیني کوي. په دې توګه دا ډېره مهمه ده چې تاسو په دې بنیادي ارزښتونو پوه شئ، احترام یې وکړئ او عمل پرې وکړئ. مونږ غواړو چې تاسو پوه شئ چې دا ارزښتونه ولې مونږ لپاره دومره مهم دي. په تاسو لازمه ده چې زمونږ د ارزښتونو د سیستم د خپلولو توان ترلاسه کړئ. مونږ له تاسو تمه لرو چې د اوتریش په ژوند کې خپله مثبته ونډه ترسره کړئ.

اوتریش هر سړي او ښځې ته پرته له دې توپیره چې اصلیت یا شالید یې څه دی عادلانه موقعې برابروي. په بدل کې، اوتریش له هر چا تمه لري چې یو سوله ییز او مسوولیت لرونکي شریک ژوند ته ژمن واوسي او د قانون احترام او اطاعت وکړي.

هغه قواعد د کومو پر اساس چې خلک اوتریش کې له یو بل سره ژوند کوي ښایي ستاسو د خپل وطن څخه مختلف وي. هر څو که تاسو ښایي زمونږ له قوانینو او قواعدو سره عادت نه یاست، خو هر څوک چې اوتریش ته مهاجرت کوي باید د هغوی اطاعت وکړي. که تاسو پوښتنې لرئ نو هر وخت کولی شئ هغو خلکو ته چې دلته یې زیات وخت ژوند کړی مراجعه وکړئ. هغوی به تاسو سره په مرسته کولو خوشحاله شي.

# د متخصصینو د ډلې لخوا تعارفي څرګندونې

**ادغام د اوتریش د ټولنې د غړي جوړېدو لپاره اړین دی.**

مواقعو او امکاناتو یوه پراخه سلسله خلاصېږي. له دې مواقعو استفاده وکړئ. له تاسو تمه کېږي چې اوتریش کې په اقتصادي، ټولنیز، سیاسي او کولتوري پروسو کې برخه واخلئ. خو تاسو ددې توان یوازې هغه وخت لرئ چې تاسو خپل مهارتونه او ظرفیتونه وکاروئ او/یا یې بهتر کړئ، نوي استعدادونه ترلاسه کړئ او نوي شیان زده کړئ. په تاسو بیا لازمه ده چې دغه استعدادونه د اوتریش په کار بازار کې وکاروئ. دا تاسو لپاره یوازینۍ لاره ده چې د ژوند عاید ولرئ او د خپل ځان او فامیل مصارف پوره کړئ - کوم چې یو مطلق ضرورت دی.

تاسو همداراز باید په خپل غیر مسلکي ژوند کې د اوتریش د ټولنې غړي جوړ شئ. تاسو نوو خلکو سره لیدلی شئ او نوې ټولنیزې اړیکې جوړولی شئ. ټول مواقع او امکانات چې په اوتریش کې وړاندې کېږي اساس یې پر بنیادي او بشري حقونو دی. هر څوک دا حقونه لري. هغه بنسټیز ارزښت چې د بنیادي او بشري حقونو اساس جوړوي بشري کرامت دی.

**هغه بنیادي او بشري حقونه د اوتریش په قانون کې ځای ورکړی شوی دا پکې د بېلګې په توګه شامل دي:**

- **بشري کرامت:** ټول خلک برابر دي.
- **ښځې او سړي یو** شان حقونه او مکلفیتونه لري.
- **ازادي:** هر تن ازاد دی چې خپل ژوند په خپله جوړ کړي په دې شرط چې د قانون دننه عمل کوي.
- **دموکراسي:** قانون له خلکو سرچینه اخلي.
- **د قانون حاکمیت:** د چارواکو، پولیسي ځواکونو او محکمو د قانون په حاکمیت کې او د قانوني حاکمیت په اساس ترسره کېږي.
- **د ریاستي ځواک جلاوالی او تقسیم:** ریاستي ځواک په ګڼ شمېر ادارو ویشل شوی دی کومې چې د یو بل نظارت کوي.

له دې بنیادي او بشري حقونو څخه ټول خلک استفاده کوي. پرته له دې توپیره چې دوی له خپلو اصلي هیوادونو راتښتېدلي، اوتریش ته په نورو دلایلو راغلي او که دلته زېږېدلي وي. پرته له دې





توپیره چې دوی کوم مذهب یا عقاید لري، د پوستکي رنګ یې څه دی، سیاسي نظر او یا جنسي هویت یې څه دی. پرته له دې توپیره چې نارینه دي که ښځینه، متاهل دي که مجرد، له واده بغیر پیدا شوي که نه، که بالغان وي که ماشومان، که له کوم اقلیت سره تړون لري او که نه. پرته دې له دې توپیره چې دوی شتمن دي که غریب، صحتمند دي او که نه.

ددې حقونو ضمانت ریاست د خپلو قوانینو پر اساس ورکړی دی. هیڅوک له دې قوانینو پورته ندی - هیڅ چارواکی، هیڅ مذهب، هیڅ کولتوري یا اخلاقي نظر. په اوتریش کې مونږ کولی شو چې خپل نظر ورکړو او په هغو شیانو انتقاد وکړو چې زمونږ نه خوښېږي. مونږ ټول دا وظیفه لرو چې د خپلو حقونو او د نورو خلکو د حقونو حفاظت وکړو.

په اوتریش کې هم خلک تل ازاد او محفوظ نه وو پاتې شوي. ددې حقونو د جوړولو په لور لاره اوږده و او مونږ ددې د ترلاسه کولو لپاره سخته مبارزه کړې ده. خو نن مونږ دا حقونه په بشپړه توګه نورمال ګڼو. بیا هم، مونږ باید ددې خبرې د یقیني کولو لپاره خپلو هڅو ته ادامه ورکړو چې دا همداسې پاتې شي او داسې ونه ګڼو چې خپله به وشي. مونږ له تاسو همداراز تمه لرو چې خپل قوت مونږ سره ریک کړئ او ددې هدف لاسته راوړلو په لور راسره شریک کار وکړئ.  په اوتریش کې دا نورمال ده چې د بېلابېلو هیوادونو او کولتورونو خلک یو بل سره په سوله کې شریک ژوند کوي.

په دې حواله اوتریش ته د خلکو د راتګ دلایل پرواه نه لري. د منل شوو کډوالو ادغام زمونږ ټولنه کې د کامیاب شریک ژوند د یقیني کولو لپاره کلیدي دي.

**لاندې نکات اوتریش کې د یو کامیاب ژوند د ترسره کولو لپاره په ځانګړې توګه مهم دي:**

### 1. الماني زده کول او په المانۍ خبرې کول

د ټولنې د غړي جوړېدو لپاره اړین دي. د المانۍ ژبې مهارتونه به تاسو په دې وتوانوي چې ستاسو په نږدې ماحول کې څه تېرېږي په هغې پوه شئ او کار پیدا کړئ. په دې حواله د لیکلو او لوستلو مهارتونه په ځانګړي ډول یو مهم رول لري. کله چې تاسو مونږ سره په المانۍ کې خبرې کوئ مونږ خوشالېږو او دا په مونږ د اعتماد او باور کولو یوه نښه ګڼو. دا مهمه ده چې مونږ یو بل بهتر وپېژنو. نو ازاد واوسئ او خپله علاقمندي ښکاره کړئ. دا دواړو طرفو په ګټه ده. او دا به د تعصب په کمېدو او سوء تفاهم نه په ځان ساتنه کې مرسته وکړي.



اغليو او ښاغليو،

اوتريش يو له امکاناتو او مواقعو ډک هيواد دی، کوم چې هر يو تن په دې توانوي چې يو کامياب ژوند وکړي. سوله، شخصي ازادي، احترام او زغم، او همداراز په کار بازار کې د خلکو ډېر فعال دخالت زمونږ د ټولنې د سوکالۍ بنيادونه دي. د اوتريش فدرالي اساسي قانون زمونږ د هغو شريکو ارزښتونو اساس جوړوي چې زمونږ ټولنه يو کوي.

شريک اوسېدل به په اوږد مهال کې يوازې په هغه صورت په سمه طريقه ادامه وکړي که چېرې هغه خلک چې اوتريش ته راځي ځومره ژر چې امکان ولري په ټولنه کې ادغام وکړي.  په دې حواله د ادغام معنی ده:

الف) ډيالوګ کې د شريکېدو او الماني کې د ارتباط توان، ب) د کار له لارې مالي خپلواکي، ج) د اوتريش د حقوقي او ارزښتي سيستمونو قبلونه او همداراز د) د ژوند مختلفو طريقو ته احترام.

ددې لپاره چې هغه کډوال او مهاجر چې اوتريش کې اوسېږي زمونږ د ارزښتونو له سيستم سره بلد کړو، د اوتريش د ټولنيز ادغام بوديجه (Österreichischer Integrationsfonds, ÖIF) د بلدۍ سيمينارونه وړاندې کوي په کومو کې چې ګډون کوونو ته اوتريش کې د ژوند د بنيادي اصلونو په اړه معلومات ورکول کېږي. دا روزنيز سند د موجودو سيمينارونو سلسله تکميلوي او درسونو کې د ورکړل شوو موادو جزييات وړاندې کوي، که هغه ګاونډيانو سره د ارتباط، سړو او ښځو سره د برابر چلند خبره وي او که زيات عملي اړخونه، لکه د کورني کثافاتو جلاوالی. د الماني ژبې د زده کولو او د کار په بازار کې د ادغام سره په شريکه دا دلته اوتريش کې د يو ښه پيل لپاره کليدي دي.

Franz Wolf

د اوتريش د ټولنيز ادغام د بوديجې رييس







ګرانو لوستونکو،

تاسو په اوتريش کې ياست - يو داسې هيواد کوم کې چې د ډېرو متنوع اصليتونو او شاليدونو خلک يو بل سره په سوله او ازادۍ کې شريک ژوند کوي. دا اوتريش کې خلکو ته ډېر مواقع ورکوي او دا معنی لري چې هغوی مسووليتونه، حقونه او مکلفيتونه لري. زمونږ شريک ارزښتونه د سوله ييز شريک ژوند اساس جوړوي او زمونږ د ټولنيزې هماهنګۍ لپاره اړين دي.

د هغه چوکاټ دننه چې زمونږ قوانينو تشريح کړی دی او زمونږ د شريکو ارزښتونو په احترام او تعقيب په کولو تاسو اوتريش کې خپل ژوند ته بڼې ورکولو او په خپلو ديني، کولتوري يا روحاني عقايدو عمل کولو کې ازاد ياست. په اوتريش کې قانون له خلکو سرچينه اخلي. بنيادي او بشري حقونه په هر تن تطبيقېږي او اوتريش کې د هر سړي او ښځې لخوا يې په کايناتي توګه تطبيقېدونکو قواعدو په توګه درناوی کېږي او تعقيبول کېږي.

په همدې توګه، دا مونږ لپاره مهمه ده چې په اوتريش کې هر سړی او ښځه په مهمو ټولنيزو پروسو کې برخه واخلي او د خپل ځان او نورو سړو او ښځو مسووليت په غاړه واخلي. ددې هدف لپاره دا ضروري ده چې سړي او ښځې په تعليمي سيستم کې برخه واخلي او په کار بازار کې له خپلو مهارتونو او استعدادونو کار واخلي. دا يوازينۍ لاره ده چې مونږ وتوانوو چې مونږ راتلونکي کې د خپل ژوند د لوړ معيار په روان ساتلو توانوي.

دا روزنيز سند غواړي چې تاسو سره زمونږ هيواد کې د ادغام په پروسه کې په بهتره امکاني طريقه کومک وکړي. دا د هغو اساسي قواعدو چې زمونږ پر شريک ژوند حاکم دي په اړه ډېر اړوند معلومات وړاندې کوي. دې سند کې همداراز اوتريش کې د ورځني ژوند په مهمو اړخونو ډېر ګټور معلومات شامل دي. مونږ له تاسو تمه لرو چې زمونږ په کاري او ټولنيز ژوند کې په ډېر فعاليت برخه واخلئ او ستاسو ګډون ته هرکلی وايو.

زه اوتريش کې ستاسو د نوي ژوند لپاره تاسو ته برياليتوب غواړم.

Sebastian Kurz

اروپا، ټولنه کې د ادغام او بهرنيو چارو لپاره مرکزي وزير

# د منځپانګې فهرست


**133 پېژندګلوی**
133 ټولنيز ادغام لپاره د مرکزي وزير او د اوتريش د ټولنيز ادغام د بوديجې د رييس مقدمه
131 د متخصصينو د ډلې لخوا تعارفي څرګندونې

**127 عمومي کتنه**
125 عمومي معلومات
124 تاريخ او په اوسني اوتريش پې اغېزې

**119 د ژبې او تعليم اهميت**
117 پېژندګلوی
116 ژبه
115 په اوتريش کې حرفوي تعليم د شاګردۍ ټريننګ
113 د بالغانو تعليم
113 حقوق او مکلفيتونه

**109 د کار بازار او اقتصاد**
108 پېژندګلوی
106 د روزګار مختلفې بڼې
104 لازمي بيمه
104 په کار بازار کې برابر مواقع او برابر چلند
103 د پيسو معامله

**101 روغتيايي پاملرنه**
100 پېژندګلوی
98 عمومي معلومات
97 عاجلې شمېرې
96 وقايوي روغتيايي پاملرنه







**95 کور او ښه ګاونډيتوب**
94 پېژندګلوی
93 کورني قواعد
92 د استراحت ساعتونه او د شپې د وخت پراوونه
91 د کثافاتو تلفول
90 د ګاونډيتوب غير رسمي اصول

**89 د شريک اوسېدنې اصلونه – حقوقي ادغام**
88 پېژندګلوی
87 بشري کرامت - د بنيادي او بشري حقونو پر اساس
85 ازادي – د مدني قوانينو او ازاديو، مسووليت او پيوستون پر اساس
83 حفاظت او امنيت – د قوت د جلاوالي او تقسيم، دموکراسی او د قانون د حاکميت پر اساس

**79 تنوع او شريک اوسېدل – کولتوري ادغام**
78 پېژندګلوی
77 د مذهب او رياست جلاوالی
76 مذهبونه
75 فاميل او يو بل سره ژوند
75 فاميلي ژوند له تاوتريخوالي پاک
74 داوطلب فعاليتونه
73 بين الکولتوري ارتباط

د ارزښتونو او بلدتیا د کورس لپاره روزنيز سند

# زما ژوند په اوتريش کې

## مواقع او قواعد

EUROPA INTEGRATION ÄUSSERES
BUNDESMINISTERIUM REPUBLIK ÖSTERREICH

ÖIF ÖSTERREICHISCHER INTEGRATIONS FONDS

**يادونه**

په دې روزنيز سند کې تر کومه حده چې امکان لري ساده توري کارول شوي دي. هدف يې ددې خبرې يقيني کول دي چې دې نه هغو کډوالو سره د اړوندو معلوماتو په شريکولو کې هم استفاده وشي کوم چې د المانۍ محدوده پوهه لري. نتیجتاً، مشخص جزييات ځينې وختونه په يوه زياته عامه طريقه وړاندې کړی شوي دي.
ددې روزنيز سند اساس د «اتريش کې شريک اوسېدل - زمونږ په ارزښتونو متحد» نومي کتابچه ده چې اروپا، ټولنه کې د ادغام او بهرنيو چارو لپاره د مرکزي وزارت لخوا خپره شوې، يو داسې سند چې لومړي ځل لپاره ټولنه کې د ادغام په حواله زمونږ د بنيادي ارزښتونو يوه تفصيلي عمومي کتنه وړاندې کوي.

**چاپ چارې**

خپروونکی: اروپا، ټولنه کې د ادغام او بهرنيو چارو لپاره مرکزي وزارت،
Minoritenplatz 8, 1010 Wien, www.bmeia.gv.at
د امتياز خښتن/جوړوونکی: د اوتريش د ټولنيز ادغام بوديجه
Schlachthausgasse 30, 1030 Wien, www.integrationsfonds.at

**سلب مسؤليت**

دا سند اساسي معلومات وړاندې کوي؛ مشخص جزييات ترې قصداً حذف کړی شوي دي. هغه معلومات چې په دې سند کې شامل کړی شوي په ډېر احتياط او توجو راغونډ کړی شوي دي. ټول ورکړل شوي معلومات د تغير وړ دي او په استثناء د هر کوم مسؤليت. ددې روزنيز سند مشري سړو او ښځو دواړو په برابرۍ کړې ده.

د ارزښتونو او بلدتیا د کورس لپاره روزنیز سند

# زما ژوند په اوتریش کې

## مواقع او قواعد









ÖIF
ÖSTERREICHISCHER
INTEGRATIONS
FONDS

EUROPA
INTEGRATION
ÄUSSERES
BUNDESMINISTERIUM
REPUBLIK ÖSTERREICH